مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۰/۰۴/۲۶

# د غرونو شاعر

## نن د ننګيال تلین دی

د ۱۳۷۷ کال، ثور مياشت په پېښور کې وم. ګران ملګري محمد داود وفا هرسهار اخبار لوست. ناڅاپه يې راوېښ کړم : "ننګيال صاحب وفات شوی!" په ناباوری مې ورڅخه اخبار ولوته،سترګې مې وموښلې، خبر رېښتيا و.

او اوښکو هېڅ ګټه نه کوله...

زما د زلما د ورځو استاد او زما د شاعرۍ لومړنی لارښود،اسحاق ننګيال، نور له موږ نه تللی و.

لاندې شعر د هماغې ورځې ليکلی دی، چې نن يې د دغه ستر شاعر او په پښتو شاعرۍ کې د هراړخيز نوښت د بې بديله معمار د تلين په مناسبت خپروم.

اروايې ښاد، ياد يې ژوندی:

### د غرونو شاعر

د شـعـر د دوهـيـو قـلـنـدر مـــو و ننګيال
د عشق د مازيګر يو مست ګودر مو و ننګيال

پـښـتـون هـنـره نن دې پرېوتلی يو بل ستوری
دا څه وايـمـه ستوری؟ بلکې لمر مو و ننګيال

واه موږه خــو د فقر د ابــد په غم روژه وو
يـو ښکلی شان فـقـيـر لـکه اختر مو و ننګيال

د حُسن د شـرابـــو دريــانــوشـه اشنا وايه
ساقي و کـه شراب و کـه ساغر مو و ننګيال

د شـعـر د هـنريت او ازادۍ لـښکره واوره!
سنګر مـو و نـنګيال او هم رهبر مو و ننګيال

لېـواله بس د غرونو د شاعر کده هم بار شوه
پـخـپـلـه چې هم سيند و او هم غر مو و ننګيال



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ